اوونیزه
هفته نامه
# معارف

تعلیم و تربیه یگانه راه اصلاح و پیشرفت کشور است

د پوهنې وزارت خبري، ادبي او ټولنیزه خپرونه

سال تأسیس: ۱۴۲۳ هـ ق. مطابق ۱۳۸۱ هـ ش. شماره مسلسل (۳۱۲) ماه جمادی الاول ۱۴۴۷ هـ ق. مطابق ماه عقرب ۱۴۰۴ هـ. ش.

## رونمایی از دستاوردهای شاگردان مبتکر مکاتب شهر کابل



مراسم پایانی پروژه ساینسی و دستاورد های علمی شاگردان مکاتب شهر کابل با حضور محترم الحاج مولوی حبیب الله آغا وزیر، معینان محترم، شماری از روئسای محترم وزارت معارف، رئیس و مسئولان ریاست معارف شهر کابل و سایر مهمانان عالی رتبه برگزار شد.

محفل با قرائت آیاتی چند از قرآن کریم آغاز شده، سپس محترم الحاج مولوی جنت گل عزیز رئیس معارف شهر کابل ضمن خوش آمدید به رهبری محترم و مهمانان، در رابطه به المپیاد یاد شده شاگردان، صحبت مفصل نمود.

متعاقبا وزیر محترم معارف با اشاره به المپیاد های علمی شاگردان تصریح کرد: مسرت دارم که از پروژه ساینسی و دستاورد های علمی شاگردان مکاتب شهر کابل دیدن می نمایم، لله الحمد هم اکنون در سراسر کشور امنیت کامل تأمین است و نسبت به هر وقت دیگر زمینه پیشرفت های علمی مساعد شده است، برما لازم است تا از تمام نعمات الله تعالی شکرگزاری نماییم.

موصوف در ادامه افزود: ص۲

## د ښوونې او روزنې محترم معین له سید جمال الدین افغان نمونوي لیسې څخه لیدنه وکړه

د پوهنې وزارت د ښوونې او روزنې معین محترم شیخ عبدالمالک حقاني د سید جمال‌الدین افغان نمونوي لیسې له مسئولینو، ښوونکو او زده‌کوونکو سره وکتل.

د پوهنې وزارت د ښوونې او روزنې محترم معین د یاد تعلیمي مرکز ارزښت، اغېز او د زده‌کوونکو د ښوونې او روزنې پراخې موخې تشریح کړې او زیاته یې کړه: "د دې لیسې بنسټ اېښودل د پوهنې وزارت مشرتابه د قوي ارادې، پاک نیت او ژور تعهد څرګنده نښه ده او له تاسو زده‌کوونکو هم غواړو چې له دې طلایي فرصت څخه اعظمي ګټه پورته کړئ."

همدارنګه نوموړي څرګنده کړه: " ممکن تاسو په پیل کې د خپلو کورنیو، خپلوانو او ملګرو څخه د لېرې‌والي له امله خفګان سره مخامخ شوي یاست؛ خو دا مبارزه د یو لوی هدف لپاره ده. تاسو باید خپل هوډ، اراده او پر ځان‌باورۍ حس لا زیات قوي کړئ."

د یادونې وړده، تر دې دمه له ۲۰۰ تنو تازه جذب شویو زده‌کوونکو څخه ۱۶۵ تنه یې اوسمهال په یاده لیسه کې په زده کړو بوخت دي، چې ورسره د زده‌کوونکو لپاره د آسانتیاوو برابرولو، د امکاناتو تنظیم او د چاپېریال جوړښت د بشپړېدو په حال کې دی.

## دیدار وزیر محترم معارف با رئیس معارف ولایت نورستان



در دیداری که محترم الحاج مولوی حبیب الله آغا وزیر معارف با محترم الحاج مولوی تاج محمد مطمئن رئیس معارف ولایت نورستان داشت ، طرفین پیرامون وضعیت تعلیمی ولایت نورستان با هم بحث و تبادل نظر نمودند.

رئیس معارف ولایت یاد شده ضمن ارائه گزارش مفصل از وضعیت تعلیمی ولایت مذکور، در رابطه به کمبود ص۲

## امضای تفاهم نامه همکاری میان وزارت معارف و ریاست عمومی المپیک، تربیت بدنی و سپورت

به هدف انکشاف ورزش در مراکز تعلیمی وزارت معارف، تفاهم نامه همکاری بین وزارت معارف و ریاست عمومی المپیک، تربیت بدنی و سپورت از سوی محترم شیخ عبدالمالک حقانی معین تعلیم و تربیه وزارت معارف و محترم مولوی احمد الله وثیق رئیس عمومی المپیک، تربیت بدنی و سپورت به امضا رسید.

در محفل که به همین مناسبت راه اندازی شده بود، رئیس محترم عمومی المپیک، تربیت بدنی و سپورت این تفاهم نامه را گام مهم برای صحت و سلامتی، تقویت جسمانی و انکشاف ذهنی جوانان مدارس و مکاتب عنوان نمود.

سپس معین محترم تعلیم و تربیه وزارت معارف نیز در سخنان شان در مورد مزایای ورزش صحبت های همه جانبه نموده، تصریح کرد: اداره سپورت و ورزش در سطح جهانی برای شناسایی ارزش ها و کلتور اسلامی نقش مهم و تاثیرگذار دارد.

موصوف اطمینان داد؛ هردو اداره جهت تقویه و انکشاف فعالیت های تعلیمی، تربیتی و ورزشی طلاب و شاگردان تلاش های مشترک ص۲

## د مدرسینو د روزنې او مسلکي پراختیا علمي غړو بستونو لپاره آزموینه واخیستل شوه



د پوهنې وزارت اسلامي زده کړو معینیت له لوري د کابل ښار اړوندو مدارسو، د مسلکي پراختیا علمي غړو د ۱۸ کادري بستونو ډکولو لپاره آزموینه واخیستل شوه، ه دې غونډه کې د اسلامي زده کړو معین محترم الحاج مولوي کرامت الله آخندزاده، د کیفیت تضمین معین محترم الحاج مولوي عبدالخالق صادق، ځینو مرکزي رئیسانو او مسئولینو ګډون درلود.

د پوهنې وزارت د اسلامي زده کړو محترم معین په خپله پرانیستونکې وینا کې د دیني مدارسو په علمي لاسته راوړنو سربېره، د پوهنې پر کیفیت ټینګار وکړ او زیاته یې کړه چې د پوهنې وزارت مشرتابه ژمن دی، ترڅو د مدارسو او ښوونځیو علمي کیفیت لا ډېر لوړ کړي، چې د علمي کادرونو ګمارلو لپاره د نن ورځې آزموینه یې ښکاره بېلګه ده.

وروسته د پوهنې وزارت د کیفیت تضمین محترم معین د خپلو خبرو پرمهال وویل: د دندو په تر سره کولو کې مو اخلاص او د الله تعالی رضا لاسته راوړل اصلي موخه ده. نوموړي د مدرسینو مسلکي پراختیا له غړو وغوښتل چې د تعلیمي مرکزونو د استاذانو او طلابو د ښوونیز او روزنیز بهیر په پیاوړتیا کې نه ستړې کېدونکې هڅې وکړي.

د یادونې وړ ده، د مدرسینو مسلکي پراختیا بستونو ته شاوخوا ۳۵۰ کسانو نوملیکنه کړې وه، چې له دلې یې ۲۱۳ تنه د ذکرشوې آزموینې لپاره د شرایطو وړ وبلل شول او په پایله کې به یې ۱۸ تنه د مرکز کابل ښار اړوندو مدارسو کادري بستونو ته جذب شي.

سرمقاله

# په ټولګي کې د ښوونکي مثبت چلند د اغېزمنې زده کړې مهم اصل دی

بسم الله الرحمن الرحیم

اَلحَمدُلِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلامُ عَلٰی سَيِّدِالمُرسَلِينَ وَ عَلَی آلِهِ وَأَصحَابِهِ أَجْمَعِيْنَ

مدرسې او ښوونځي د راتلونکي نسل د شخصیت جوړولو مرکزونه دي. همدارنګه مدرسې او ښوونځي یوازې ودانۍ او درسي کتابونه نه، بلکې د ښوونکي او زده کوونکي ترمنځ اړیکه او هغه اصل دی چې د زده کړې لپاره مناسبه او ښه فضاء جوړوي. د ښوونکو چلند د زده کوونکو په فکر، زده کړه، په ځان باور او راتلونکي ښغ په ښغه اغېز لري. له همدې امله د مدرسینو او ښوونکو مثبت، مهربانه او هڅوونکی چلند د اغېزمنې زده کړې لپاره ډېر اړین دی.

مدرسین او ښوونکي باید طلاب العلم او زده کوونکي ته د درناوي او مهربانۍ په سترګو وګوري. طلاب العلم او زده کوونکي کله ناکله تېروتنه کوي، خو دا تېروتنې د زده کړې د بهیر برخه ده. که یو مدرس او ښوونکی د طالب العلم او زده کوونکي تېروتنه په تمسخر او سپکاوي بدله کړي، نو طلاب او زده کوونکي په راتلونکي کې د وېرې له امله د پوښتنې کولو جرئت له لاسه ورکوي. خو که مدرس او ښوونکی د طالب العلم او زده کوونکو د تېروتنو په صورت کې هغوی خپلو تېروتنو ته ځیر او د بیا نه تکرار لپاره یې لازمې مشورې ورکړي او پوښتنې یې په ورین تندي او خوږه ژبه ورته حل کړي، طلاب او زده کوونکي به نه یوازې ښه زده کړه وکړي، بلکې په ځان یې باور نور هم پیاوړی کېږي.

قدرمن مدرسین او ښوونکي باید د زده کوونکو ترمنځ عدالت په پام کې ونیسي او د هغوی تر منځ هېڅ ډول توپیر ونه کړي ځکه چې دا توپیر په زده کوونکو منفي اغېز کوي او په ځان کې د کمي احساس کوي. خو کله چې طلاب العلم او زده کوونکي دا احساس کړي چې مدرسین او ښوونکي له ټولو سره یو شان چلند کوي، د دوی باور او او د زده کړې لپاره یې هڅې لا ډېرېږي. د زده کوونکو تر منځ عدالت د هغوی تر منځ د اعتماد فضاء رامنځته کوي، او دا فضاء د هر ډول مؤثرې زده کړې لپاره اړینه ده.

همدارنګه ښوونکي باید د زده کړې په بهیر کې د زده کوونکو ستونزو ته په پوره اخلاص او مهربانۍ رسېدنه وکړي. ځینې زده کوونکي د کورني، ټولنیز یا رواني فشار له امله په زده کړه کې د تمرکز ستونزه لري. یو ښوونکی چې دا حالت درک کړي، کولای شي د ملاتړ، مشورې او حوصلې له لارې د زده کوونکي د ستونزو په له منځه وړلو کې ورسره مرسته وکړي.

باید وویل شي چې ښوونکي د ټولنې د راتلونکي جوړونکي دي، له زده کوونکو سره د هغوی مهربانه چلند نه یوازې د زده کوونکو په علمي لاسته راوړنو اغېز کوي، بلکې د هغوی د اخلاقو او شخصیت بنسټ هم ږدي. ښوونکی هغه څراغ دی چې که په مینه، انصاف او زغم د علم ډېوه بله وساتي، نو زموږ ماشومان او اوسنی نسل به په رڼا کې لاره ومومي.

نو ګرانو ښوونکو! تاسو ته هغه کسان په ټولګي کې ناست دي چې د ذهن صفحې یې سپینې دي. طلاب العلم او زده کوونکي هغه نازکو نیالګیو ته ورته دي چې په آسانۍ سره هر لور ته کږېږي نو باید د دوی سمه روزنه وکړئ او د تعلیم تر څنګ یې داسې تربیت وکړئ چې نه یواځې خپلې کورنۍ بلکه د هېواد خادمان شي.

قدرمن استاده! د ملت د بچیانو روزنه ستا لپاره بهترین عبادت او غوره صدقه ده په لوړ عزم، اخلاص او مینه دا سپېڅلی خدمت سر ته ورسوه!

## په دایکنډي ولایت کې یو نوښتګر زده کوونکي د انټرنت وای فای دستګاه جوړه کړه



د دایکنډي ولایت د پوهنې رئیس محترم الحاج مولوي شبېر محمد صدیقي او نورو چارواکو په حضور کې په ساینس او ریاضي څانګو کې د غوره زده‌کوونکو نوښت " تر سرلیک لاندې د آزادې سیالۍ پروګرام جوړ شو.

یاد پروګرام د پوهنې وزارت د ساینس مرکز ریاست د پلان پر بنسټ، د دایکنډي پوهنې ریاست لخوا د نهو ولسوالیو د ښوونځیو ترمنځ د غوره زده‌کوونکو د لاسي صنایعو او اختراعاتو د سیالۍ په توګه پیل شو، په دې سیالیو کې د عبدالقیوم په نوم د دایکنډي ولایت د شهرستان ولسوالۍ اروند د برلان عالي لیسې د لسم ټولګي زده کوونکي په خپل نوښت د وای فای د داسې دستګاه په جوړولو بریالی شوی چې کولای شي په یوه وخت کې د معلوماتو او اسنادو فایلونه څو نورو دستګاوو ته ولېږدوي.

عبدالقیوم وایې دا دستګاه یې د ټېلفون له بېلابېلو پرزو جوړه کړې چې اوسمهال په ښه توګه فعالیت کوي.

نوموړي وویل: که مالي امکانات ورته برابر شي کولای شي نور پر مخ تللي ټکنالوژیکي وسایل هم جوړ کړي.

په پایله کې عبدالقیوم په یادو سیالیو کې د ساینس ستوري په توګه وپېژندل شو او دده د استعداد د ودې او لا هڅولو په موخه مرکز ته معرفي شو.

## په هلمند ولایت کې د ۱۱ بابه ښوونځیو لپاره نوې ودانۍ جوړې شوې

د هلمند ولایت د ۱۱ بابه ښوونځیو لپاره له پوهنې سره د یوې همکارۍ اداري په مالي مرسته د ۱۰۹ مېلیونه ۸۸۰ زره افغانیو په لګښت نوې ودانۍ جوړې او د پوهنې مسئولینو، سیمه‌ییزو چارواکو، علماءکرامو، مشرانو او زده‌کوونکو په حضور کې ګټې اخیستنې ته وسپارل شوې.

د یادو ودانیو د پرانیستلو پر مهال، د هلمند ولایت پوهنې رئیس محترم الحاج مولوي محمد عوض انصاري د پوهنې پر اهمیت، د ودانیو په سمه توګه ساتلو او ښوونیز نظام د لا پیاوړتیا پر اړتیا ټینګار وکړ.

د یادونې وړ ده، دغه ودانۍ له معیارونو سره سمې جوړې شوې دي، چې په جوړېدو سره یې د سیمې زرګونو تنه زده کوونکو ته د زده کړې مناسب چاپېریال را منځ ته شوی دی.

## لوګر کې څه د پاسه ۱۶۰ مېلیونه افغانیو په لګښت ۱۴ ودانیزې پروژې پلې شوې دي

د روان ۱۴۰۴ لمریز کال لومړیو شپږو میاشتو کې، د لوګر ولایت د پوهنې ریاست له لوري د شاوخوا ۱۶۰ مېلیونه افغانیو په لګښت ۱۴ ودانیزې ښوونیزې پروژې پلې شوې دي.

یادې پروژې د پوهنې وزارت سره په همغږۍ او یو شمېر مرستندویه بنسټونو په مالي مرسته پلې شوې ، چې د ۱۴ بابه ښوونځیو لپاره د مجهزو ودانیو جوړول، د اړینو روغتیایي آسانتیاوو را منځ ته کېدل، د لمریزې برېښنا او څښاک پاکو اوبو منظمو سیستمونو نصبول شامل دي، د مسئولینو د معلوماتو له مخې د یادو پروژو په پلي کېدو سره شاوخوا ۱۲ زره تنو زده‌کوونکو لپاره د ښوونې او روزنې معیاري چاپېریال را منځ ته شوی.

د لوګر ولایت د پوهنې ریاست مسئولین وایې: د یادو پروژو د پلي کېدو سربېره، د تېرې میاشتې په بهیر کې نږدې د ۴۴ مېلیونه افغانیو په لګښت د ۶۱ نورو ودانیزو پروژو عملي چارې هم پیل شوې دي.

## مساعدت نزدیک به ۴ میلیون افغانی با نهاد های تعلیمی در ولایت پنجشیر

در شش ماه گذشته امسال (۱۴۰۴خورشیدی) از سوی باشندگان علم دوست ولایت پنجشیر مجموعا مبلغ ۳ میلیون و ۹۶۴ هزار و ۳۴۶ افغانی با مدارس دینی و مکاتب ولایت پنجشیر مساعدت صورت گرفته است.

به گفته محترم الحاج مولوی محمود طالب ثاقب، رئیس معارف ولایت پنجشیر، این کمک ها از سوی مردم خیِّر، بزرگان قومی، منسوبین معارف و اولیای شاگردان در ولایت یاد شده صورت گرفته، که در بخش های ایجاد سهولت های تعلیمی و اداری برای نهاد های تعلیمی به مصرف رسیده است.

### رونمایی از دستاوردهای شاگردان مبتکر...

تکنالوژی و وسایل یکی از ضروریات جدی زندگی فعلی می باشد و در بخش پروژه های ساینسی و دستاورد های علمی، نو آوری ها و تلاش های شاگردان ممتاز را می ستاییم.

در ادامه شاگردان مبتکر، پروژه های ساینسی خود را به حضور رهبری محترم وزارت معارف به نمایش گذاشتند که مورد توجه و استقبال گرم رهبری محترم قرار گرفت.

به گفته مسئولان؛ هدف اساسی راه اندازی المپیاد علمی میان شاگردان مکاتب رسمی و خصوصی شهر کابل، شناسایی زحمات، تلاش ها و استعداد های نسل جدید به ویژه شاگردان ممتاز و مبتکر در بخش ساینس و تکنالوژی می باشد.

محفل مذکور با توزیع جوایز به شاگردان ممتاز و مبتکر و قرائت دعائیه اختتام یافت.

### دیدار وزیر محترم معارف با...

تعمیر برای مدارس و مکاتب، ازدیاد تشکیلات معلمان، نبود کتب درسی کافی برای شاگردان، برگزاری سیمینار ها و نشست های ارتقای ظرفیت برای معلمان و کارمندان اداری آن ریاست و سایر موضوعات مهم صحبت نموده و خواهان اهتمام رهبری محترم وزارت معارف در حل مشکلات متذکره شد.

بالمقابل از جانب وزیر معارف در پیوند به حل مشکلات ریاست معارف ولایت نورستان به رئیس معارف آن ولایت وعده همکاری سپرده شد.

### امضای تفاهم نامه همکاری...

انجام می دهند. قابل یاد آوریست که بر اساس این تفاهم نامه برای طلاب مدارس و شاگردان مکاتب برنامه های متنوع ورزشی، رقابت های سپورتی، سیمینار های مسلکی راه اندازی می شود تا سبب رشد ذهنی و جسمی جوانان مذکور شود.

### کندهار ولایت ته. ..

همدې امله زه ټولو مسئولینو ته مشوره ورکوم چې د ښوونکو د روزنې، زده کړې، کیفیت ښه کولو او د هېوادوالو د همکارۍ راجلبولو په برخه کې عملي ګامونه پورته کړئ."

دغه راز د پوهنې وزارت د تشکیلاتو رئیس هم په خپله وینا کې وویل:"پوهنیز نظام د اداري نظم، حساب ورکولو او همغږۍ بنسټ دی. موږ هڅه کوو چې د هر ښوونکي، ښوونځي او کارکوونکي دندې او مقامونه په روښانه توګه تعریف کړو، ترڅو د کار بهیر شفاف او اغېزمن شي."

### معین محترم مالی و اداری. ..

قدردانی نمود. در این جلسه، روی کمبود ساختمان‌های مکاتب، توزیع مواد درسی، حضور و مدیریت منظم معلمان و ارتقای کیفیت آموزشی بحث همه‌جانبه صورت گرفت که از طرف رهبری این وزارت در راستای حل مشکلات با آن ها وعده همکاری سپرده شد.

## لنډخبرونه

### بدخشان کې د يوې ديني مدرسې لپاره ٦ درسي ټولګي جوړ شول

د بدخشان ولايت په کشم ولسوالۍ کې د غياثيه ديني مدرسې لپاره د ۶ درسي خونو جوړولو چارې، چې څه موده وړاندې د ځايي اوسېدونکو په مرسته د ۳۰۰ زره افغانيو په لګښت پيل شوې وې، اوس‌مهال بشپړې او د پوهنې چارواکو لخوا پرانيستل شوه.

ياده مدرسه چې ۴۰۰ تنه طالبان لري چې د نويو درسي ټولګيو په جوړېدو سره يې د درسي خونو د نشتوالي ستونزه

### په غور کې د ۲ بابه ښوونځيو رغنيزې چارې دوام لري

د غور ولايت په مرکز فيروزکوه ښار کې د سيد آباد او هوايي ډګر ښوونځيو د جوړېدو کارونه د يوې همکارې ادارې په مالي ملاتړ سره د ۵۸۱ زره ډالرو په لګښت روان دي.

د پوهنې چارواکو په وينا د دې ودانيو له بشپړېدو وروسته به د شاوخوا ۷۱۲ تنو زده‌کوونکو لپاره مناسب او خوندي تعليمي چاپېريال برابر شي.

### برگزاری مسابقهٔ سیرت النبی ﷺ در یکی از لیسهٔ های ولایت هرات

به‌هدف تعمق فرهنگ اسلامی میان جوانان، تشویق شاگردان به مطالعه و ارتقای سطح آگاهی دینی آنان، مسابقهٔ علمی-فرهنگی تحت عنوان «شناخت سیرت النبی ﷺ و خلفای راشدین» در لیسهٔ مرکزی ولسوالی شیندند ولایت هرات برگزار شد.

در این رقابت علمی، ۲۱۰ تن شاگردان اشتراک نموده بودند. مسئولان معارف ولسوالی شیندند، می گویند: آشنایی نسل جوان با سیرت، اخلاق و سلوک پیامبر اکرم ﷺ و خلفای راشدین می‌تواند آنان را به انسان‌های مفید، با اخلاق و خدمت‌گزار جامعه مبدل سازد.

### انتقال ۳۰ جریب زمین از طرف وزارت زراعت و مالداری به وزارت معارف

به تاسی از حکم مقام عالی رهبری امارت اسلامی افغانستان مبنی بر حمایت و توسعه زیر ساخت های تعلیمی در وزارت معارف، وزارت زراعت و مالداری به مساحت ۳۰جریب زمین که در ولسوالی سرخرود ولایت ننگرهار موقعیت دارد، به هدف اعمار یک باب مدرسه دینی در ولسوالی یادشده به وزارت معارف رسما انتقال نمود. اسناد زمین یادشده از طرف مولوی سید محمد سعید رئیس انتقال و توزیع زمین وزارت زراعت و مولوی سمیع الحق حماس رئیس حفظ املاک و تاسیسات وزارت معارف امضا و رسما به این وزارت تحویل داده شد.

### پکتيکا ولايت کې د يوې ديني مدرسې ودانۍ پرانيستل شوه

د پکتيکا ولايت جاني‌خېلو ولسوالۍ اړوند نعمانيه ديني مدرسې نوې ودانۍ د ۳۴۵ زره افغانيو په لګښت د خلکو په مالي ملاتړ جوړه او د ياد ولايت پوهنې مسئولينو په حضور کې ګټې اخيستنې ته وسپارل شوه.

د پکتيکا پوهنې رئيس محترم مولوي عبدالوکيل خالد په وينا، دغه ودانۍ ۶ درسي خونې او يو تالار لري چې په جوړېدو سره يې د سيمې سلګونو تنه طلاب العلم ته د زده کړې مناسب چاپېريال برابر شوی. د پوهنې رئيس له خلکو وغوښتل چې د پوهنيز نظام د پياوړتيا لپاره لا زياته همکاري وکړي.

### برگزاری سیمینار برای شاگردان در ولایت پروان

سیمینار یک‌روزه زیر عنوان «اصلاح فکری» برای صدها تن شاگردان شماری مکاتب ولایت پروان در هماهنگی با ریاست معارف آن ولایت، از سوی یکی از ادارات فکری و فرهنگی حامی معارف، برگزار شد که هدف آن آگاهی‌دهی و اصلاح فکری نسل جوان جامعه می باشد.

محترم مولوی سید محمد فیضی رئیس معارف ولایت پروان گفت: نظام اسلامی سرچشمهٔ عزت و وقار ماست و از استادان و علما خواست تا در تربیه نسل جدید به روحیه اسلامی و ملی تلاش های جدی داشته باشند.

وی از جوانان نیز تقاضا نمود تا حامی ارزش‌های اسلامی بوده و در خدمت به وطن کوشا باشند.

# د انسان په ژوند کې د وخت ارزښت

◇ ليکنه: مولوي عصمت الله عزام

وخت د انسان عُمر دی، په ژوند کې يې پانګه او سرمايه ده، که کوم انسان د خپل وخت له هر ضايع کېدونکي ساعته ګټه واخلي او هغه د علم په زده کړه يا په داسې يوه کار کې ولګوي چې ده ته ګټه رسوي، نو په دې سره به ډېر څه تر لاسه کړي او د سُستيا له ناروغۍ به وژغورل شي.



انسان په دُنيا کې د وخت په ضمن کې ژوند کوي، خپله انسان له وخت څخه تعبير کوي، ځکه ته لس يا شل کاله وړاندې داسې نه وې لکه چې نن يې! نه په شکل، نه په علم او پوهه کې او نه په بدن او طاقت کې. همدا راز لس يا شل کاله وروسته به هم داسې نه وې لکه څرنګه چې نن يې!

نو د وخت په تېرېدو سره د انسان چاپېر هر شی بدلون مومي. هره ورځ چې پر انسان تيرېږي، په دې سره يې عُمر کميږي او مرګ ته نږدې کېږي.

نو هوښيار انسان بايد خپل وخت غنيمت وګڼي او دغه وخت چې الله تعالی ور کړی، په هغه څه کې مصرف کړي چې الله تعالی راضي کېږي او د ځان لپاره په دُنيا او آخرت کې سعادت او نېکمرغي تر لاسه کړي.

الله جل جلاله پر انسانانو بې شمېره احسانات کړي دي، بې شمېره نعمتونه يې ور کړي او هغه ټول ډېر ستر نعمتونه دي او د ټولو قدر کول ضروري دي، خو ځينې نعمتونه ډېر لوی دي د هغو خوا ته پام کول ډېر ضروري دی.

دا ځکه چې خلکو ته د هغو قېمت او ارزښت نه معلومېږي ، که چا ته معلوم وي، د هغه د قدر کولو خوا ته يې يا خو پام نه وي او که وي ، نو پوره پاملرنه يې نه وي ور ته کړې.

له هغو ډېرو لويو نعمتونو څخه يو هم وخت دی.

په وخت سره ورځ، اونۍ ، مياشت او کال معلوميږي او په دې سره د انسان عُمر معلو ميږي.

همدا راز په وخت سره د عبادتونو وختونه پېژندل کېږي ، د کومو لپاره چې په شريعت کې وخت ټاکل شوی دی ، په ځانګړې توګه لمونځ چې الله تعالی په خاصو وختونو کې اداء کول فرض کړي دي. الله تعالی فرمايي :إِنَّ الصَّلَاةَ كَانَتْ عَلَى الْمُؤْمِنِينَ كِتَابًا مَوْقُوتًا ( النساء : ۱۰۳)

په يقيني توګه لمونځ پر مؤمنانو وختناکه فرض شوی دی !

وخت په دُنيا کې د انسان لپاره يوه موقع ده چې الله تعالی له ځانه راضي کړي او راتلونکی تلپاتې ژوند د ځان لپاره سم کړي.

همدا راز په وخت سره د هغو پېښو تاريخ معلوميږي چې په دُنيا کې شوي او کېږي، چې موږ په اوسني ژوند کې عبرت او ګټه ورڅخه اخيستلی شو، د وخت د قدر او ترې په سمه توګه ګټه اخيستل شخص او ټولنې ته ډېرې زياتې ګټې رسولی شي.

وخت يو داسې لوی نعمت دی چې د ارزښت په هکله يې مسلمانان او کافران ټول متفق دي، هېڅوک يې د قيمت په اړه سوال نه لري ځکه د انسان وخت د ده عمر دی، او د ده د ابدي او تلپاتې ژوند د نېکمرغۍ او آسانۍ ماده ده، خو له بده مرغه ډېر خلک د وخت پروا نه لري او په قدر يې نه پوهېږي، نو ځکه يې په عبث او بې ګټې کارونو کې تېروي.

د حيرانتيا خبره خو دا ده چې ډېری خلک په دې خوشحالېږي چې وخت ژر پرې تېرېږي ، په داسې حال کې چې دوی ته هم معلومه ده چې د وخت تېرېدل مرګ ته نږدې کېدل او له دُنيا لرې کېدل دي.

يو شاعر وايي :

يَسُرُّ الْمَرْءَ مَا ذَهَبَ اللَّيَالِي. . . وَكَانَ ذَهَابُهُنَّ لَهُ ذَهَابًا

يعنی سړی د شپو تلل خوشحالوي، په داسې حال کې چې د شپو تګ د ده لپاره هم تګ دی !!

نو موږ بايد د انسان په ژوند کې د دغه ستر نعمت قدر وپېژنو او په ګټه اخيستلو کې يې بايد له پوره احتياط څخه کار واخلو، څو دغه نعمت زموږ لپاره ډېر مُفيد او مُؤثر ثابت شي.

د دې خبرې دا مطلب هم نه دی چې موږ دې خپل ځان او بدن ته هېڅ هوساينه او آرامتيا نه ور کوو او نه دې څه د دماغ د تقويې لپاره تفريح کوو، بلکې مطلب دا دی چې تفريح او د ځان هوساينه به تر ضرورت زياته نه کوو چې په پايله کې مو وختونه ضايع او بې ګټې تېر شي.

وصلی الله تعالی علی نبينا محمد وعلی آله وصحبه اجمعين

## معلم

ای معلم بـه تـو احسـان از خـدا میخواهـم
اجـر تکلیـف تـو در روز جـزا میخواهـم

تـو کـه از خـون جگـر پـرورش مـا کـردی
روز و شـب خالـق خـود از تـو رضـا میخواهـم

ذره ذره کـه مـا علـم نمـودی تعلیـم
کـوه کـوه اجـر تـو در هـر دو سـرا میخواهـم

علـم و عرفـان تـو بینایـی چشـم و دل ماسـت
دایـم ایـن مشـعل فیـض تـو ضیـا میخواهـم

طفـل افغـان از تـو شـد خـرم و مسـعود سـواد
بـس موفقتـرت از قلـب صفـا میخواهـم

مـا نداریـم بـه کـف تحفـه لایـق تـر ازیـن
در دو عالـم از تـو خشـنود خـدا میخواهـم

هسـتی ذات تـو ای نابغـه علـم و کمـال
ایمـن از پنجـه شـاهین قضـا میخواهـم

بـا دو چشـم تـر و بـا عجـز زشـاه دو جهـان
رفعـت و منزلتـت را بـه دعـا میخواهـم

هـر لئیمـی کـه نـدارد بـه تـو تعظیـم بـه صـدق
روی او در همـه اوقـات سـیاه میخواهـم

دسـت بـر سـینه بـه تعظیـم به صـد عجـز و نیاز
سـاکب" از حضـرت اسـتاد دعـا میخواهـم

**استاد خواجه حبیب الله "ساکب "**

## پند و اندرز لقمان حکیم رحمه الله به فرزندش



- خود خواه و متکبر مباش!
- در حضور ایستادگان منشین!
- کلام جدی را با مزاح آمیخته مکن!
- هیچکس را پیش دیگران خجل و رسوا مکن!
- با چشم و ابرو با دیگران سخن مگو!
- سخن گفته شده را تکرار مکن!
- از شوخی و مزاح خود کمتر کن!
- از خود و خویشاوندان نزد دیگران تعریف مکن!
- حُرمت هر کس را در حد خود نگه دار!
- در کار بد با اقوام و دوستان همکاری مکن!
- از مُردگان به نیکی یاد کن!
- از خصومت و جنگ افروزی جدّاً پرهیز کن!
- با چشم احترام به کار دیگران نگاه کن!
- برای جمع آوری بیش از حد مال و ثروت حریص مباش!
- هنگام خشم صبور باش و سخن سنجیده بگو!
- در راه رفتن از بزرگان پیشی مگیر!
- هنگام صحبت کردن سُخن دیگران را قطع مکن!
- هنگام راه رفتن جز به ضرورت چپ و راست خود را نگاه مکن!
- در حضور مهمان بر کسی خشم مگیر!
- در کار دیگران کنجکاوی و جاسوسی مکن!
- در اصلاح میان مردم هیچ گاه کوتاهی مکن!
- ادب و تواضع را هیچ گاه فراموش مکن!
- با خداوند جل جلاله صادق و با مردم با انصاف باش!


# Marif
Weekly

کتنپلاوی: شیخ محمد طاؤس «طارق»
مولوي عزیز احمد «ریان»
مفتی حبیب الله «قتاده نوري»
احمد شعیب «حقیقي»
عبدالصبور «غفراني»
محمد نسیم «عیاذ»
مسئول مدیر: سعید «جلال»
انځور اخیستونکی: محمد ادریس «نوري»

صفحه آرا : محمد قسیم «یعقوبي»
شمېر : ۳۰۰۰
پته: کابل ښار، غازي محمد جان خان واټ، د پوهنې وزارت
د نشراتو او عامه اړیکو ریاست، د نشراتو او عامه پوهاوي آمریت

**د پوهنې کاروان مینه والو!**
تاسو کولای شئ خپلې لیکنې، وړاندیزونه او نیوکې په لاندې برېښنا لیک او تلیفون شمېرې له موږ سره شریکې کړئ.
Marifnewspaper1919@gmail.com
د اړیکې شمېره: ۰۷۲۸۴۰۷۲۷۲

Ministry of Education Cultural and Social Issue / Better Education - Better Future / Established 2002, Issue No 312 /2025

# کندهار ولایت ته د پوهنې محترم وزیر سفر

د پوهنې وزیر محترم الحاج مولوي حبیب الله آغا کندهار ولایت ته د سفر په ترڅ کې چې د یاد وزارت د تشکیلاتو رئیس محترم مفتي عبدالحلیم حلیمي یې ملتیا کوله د کندهار ولایت د پوهنې رئیس محترم الحاج مولوي فخرالدین نقشبندي ، د مرکز او ولسوالیو د پوهنې آمرینو له مسئولینو او مسلکي پراختیا له غړو سره وکتل.

په دې لیدنه کې د کندهار ولایت د پوهنې رئیس، پوهنه د هر ملت د ودې او بقا د بنسټ په توګه یاد کړه او وې ویل :موږ ټول باید د علم او پوهې د ودې لپاره په ګډه کار وکړو.

وروسته د پوهنې محترم وزیر په خپله مفصله وینا کې وویل: " زه د کندهار پوهنې ریاست له هڅو او همغږۍ ستاینه کوم، زده کړه زموږ د اسلامي ټولنې د اصلاحاتو او پرمختګ اساس دی، موږ باید د علم، اخلاقو او تقوا ترکیب د خپل تعلیمي نظام هدف وګرځوو، د پوهنې مسئولین هر کار باید د اجر او ثواب په نیت ترسره کړي، ځکه چې دا د اسلامي اُمت راتلونکی جوړوي، له

۲مخ

# بغلان ولایت کې د ۸۰ میلیونه افغانیو په لګښت د ۲۰ بابه ښوونځیو ودانۍ ترمیم شوې



د بغلان ولایت پوهنې رئیس محترم الحاج مولوي سید حفیظ الله معتصم بالله، په یاد ولایت کې د ۲۰ بابه ښوونځیو د بیارغونې چارې له بشپړېدو وروسته پرانیستې.

په دغو ودانیو ټولټال ۸۰ میلیونه افغانۍ لګښت راغلی، چې د یوې همکارې اداري له مالي مرستې څخه تمویل شوې او په پایله کې یې د سلګونو تنو زده‌کوونکو لپاره خوندي او مناسب تعلیمي چاپېریال برابر شوی دی.

د بغلان پوهنې رئیس د نهرین ولسوالۍ د ۱۰ بابه ښوونځیو د پرانیستلو په مراسمو کې د یادې مرسته کوونکې ادارې له ملاتړ څخه مننه وکړه او د ښوونځیو له کارکوونکو، په ځانګړې توګه له زده‌کوونکو څخه یې وغوښتل چې د ښوونځیو د ودانیو او تجهیزاتو ساتنې او پالنې ته جدي پام وکړي.

# د پوهنې وزارت د تدریساتو کمېسیون غونډه ترسره شوه

د پوهنې وزارت د ښوونې او روزنې معین محترم شیخ عبدالمالک حقاني په مشرۍ د تدریساتو کمېسیون نوبتي غونډه د یاد وزارت په مرکز کې ترسره شوه.

په دغه غونډه کې د کمېسیون غړو او د پوهنې وزارت د یو شمېر مرکزي ریاستونو استازو هم ګډون درلود.

غونډې د آجنډا له مفرداتو سره سم د تدریساتو، درسي نصاب، ښوونکو روزنې او نورو اړوندو موضوعاتو په اړه هر اړخیز بحثونه ترسره شول.

دغه راز ګډونوالو د موضوعاتو په اړه خپل نظریات او وړاندیزونه د کمېسیون له غړو سره مطرح او د مراجعینو د ستونزو او غوښتنو په اړه هم مفصل بحثونه وشول، چې په پایله کې ۲۶ مهمې پرېکړې ترسره او د نورو اجراآتو لپاره اړوندو ریاستونو او مسئولینو ته واستول شوې.

# بازدید معین تعلیم و تربیه وزارت معارف از لیسه عالی عبدالحق بیتاب شهر کابل

محترم شیخ عبدالمالک حقانی، معین تعلیم و تربیه وزارت معارف از لیسه عالی عبدالحق بیتاب در ناحیه هشتم شهر کابل دیدار و با مسئولین و شاگردان این لیسه ملاقات کرد.

وی، ضمن بازدید از صنف‌های درسی، نصاب تعلیمی، روش تدریس معلمان، حاضری و سطح آموزشی شاگردان را بررسی کرده و به شاگردان توصیه‌های لازم در مورد اهداف آموزشی‌شان ارائه نمود. مسئولین و معلمان این لیسه از حضور معین محترم وزارت معارف استقبال نموده و این دیدار را در تقویت روند آموزشی و مدیریت تعلیمی آن لیسه مؤثر ارزیابی کردند.

# معین محترم مالی و اداری وزارت معارف عازم ولایت غزنی شد

محترم الحاج مولوی صبغت‌الله وصیل معین مالی و اداری وزارت معارف در رأس یک هیئت بلند رتبه به ولایت غزنی سفر نمود و طی دیداری که با محترم الحاج مولوی میر نصیر احمد حسینی رئیس معارف و مسئولان برنامه‌های ریاست معارف آن ولایت داشت در مورد موضوعات مهم معارف آن ولایت با آنان بحث و گفتگو نمود.

در این نشست رئیس معارف ولایت غزنی معلومات مفصلی در مورد وضعیت تعلیمی، برنامه‌های جاری و مشکلات موجود معارف آن ولایت ارائه کرد.

معین محترم مالی و اداری این وزارت پس از استماع گزارش‌ها، فعالیت‌های ریاست معارف غزنی را مثبت ارزیابی کرده و از تلاش‌های آنان

۲مخ

# د کیفیت تضمین محترم معین د ننګرهار ولایت له ښوونیز وضعیت څخه لیدنه وکړه




د پوهنې وزارت د کیفیت تضمین معین محترم الحاج مولوي عبدالخالق صادق، د یاد وزارت د مالي چارو رئیس محترم مولوي صدرالدین سعد په ملتیا، ننګرهار ولایت ته د خپل سفر په بهیر کې د خوږیانو ولسوالۍ پوهنې آمریت او د هغې ولسوالۍ له حکیم آباد ښوونځي څخه لیدنه وکړه. نوموړي د حکیم آباد عالي لیسې څخه د لیدنې او ستونزو اورېدلو وروسته، د سیمې د قومي مشرانو سره ولیدل او د یادې ولسوالۍ د تعلیمي وضعیت په اړه یې د خبرو ترڅنګ ژمنه وکړه، چې د خوږیانو ولسوالۍ د تعلیمي ستونزو په حل کې به همکاري وکړي.

وروسته د ننګرهار ولایت پوهنې چارواکو یاد ولایت ته د پوهنې پلاوي له سفر څخه مننه او هرکلی وکړ.

**معارف د ملت د رڼا څراغ دی، راځئ چې دا رڼا مدرسو او ښوونځیو ته د خپلو ماشومانو په لېږلو سره روښانه وساتو**